UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلامیه
http://unama.unmissions.org

# د افغانستان دپاره د ملګرو ملتونو د عمومی منشی ځانګړی استازی ستفان دی میستورا مذهبی مشرنو سره په کتنه

**کابل** سه شنبه، د اپریل د میاشتی ۱۲ نیټه ، کال ۲۰۱۱ – نن ورځ د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازی ستفان دی میستورا د هغه په غوښتنه د افغانستان د علمآوو د شورا د مشر مولوی قیام الدین کشاف او د حج ، مذهبی چارو او د اوقافو د وزیر ډاکټر یوسف نیازي سره په جلا ، جلا ډول ولیدل.

د ملګرو ملتونو ځانګړي استازی د مولوی کشاف اندیښنو ته په توجه سره د افغانستان د علماوو د شورا د هغې غصې په اړه خپل درک څرګند کړ چې مقدس قران ته دسپکاوی او تخریب په اړه چې په دې وروستیو وختونو کې په فلوریدا کې د جونز له خوا تر سره شو، دغې شورا درلودله – داسې یو عمل چې د ډیرو له خوا په سختو الفاظو سره په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي په شمول وغندل شو.

مولوی قیام الدین کشاف هم په سختئ سره د یوناما د کارکوونکووژنه وغندله او خپله خواشیني یې څرګنده کړه. د ملګرو ملتونو ځانګړي استازی د مولوي کشاف څخه د هغه د نیکو څرګندونو په اړه مننه وکړه او زیاته یې کړه چې هیڅ ډول اقدام د داسې یو برید د توجیه لپاره نه شته چې پر ملکي بې ګناه کسانو باندې چې دلته په افغانستان کې دی څو چې د افغانستان د خلکو سره مرسته وکړي د هغوي فرهنګ ، دودونو او په ریښتوني سره ددوي مذهب ته درناوی لري تر سره شی.

د افغانستان دعلماوو شورا په افغانستان کې د یوناما د کاراو په تیره بیا یې د مشرتابه د هغه نقش ستاینه وکړه چې هغه یې دافغانستان د بیا رغوني د چارو لپاره د نړیوالو مرستو د همغږئ لپاره تر سره کوي. مولوی کشاف زیاته کړه چې یوناما د ټولې نړیوالې ټولنې استازیتوب کوی چې په کې اسلامي هیوادونه هم شامل دي.

د حج او مذهبی چارو وزیر ډاکټر یوسف نیازی په داسې حال کې چې په سختو الفاظو سره یې په فلوریدا کې هغه ناوړه عمل چې د یو کس له خوا تر سره شو وغانده ، وویل قران پاک وایي چې ریښتونی مسلمان د میلمنو درناوی کوي ، د یوناما کار کوونکي زمونږ میلمانه دي ، دوي راغلي دی چې د افغانستان د خلکو خدمت وکړی ، دوی زمونږ عقایدو ، فرهنګ او دودونو ته احترام لري او افغانانو ته په کار ده چې ددوي او ددوي د ژوندانه درناوي ولري.

یوناما به په ټینګه سره د هر ډول هغه نیت او ارادې چې دغه شان نورې کړنې تر سره کړي او په اسلامی عقایدو، فرهنګ او دودونو باندې تیری وکړي غندنه کوي . یوناما ددې غوښتنه کوی چې د دغه ډول اعمالو د سرته رسیدو د مخنیوی لپاره باید اقدامات وشی او دهر ډول قانونی لارو څخه د نړئ په هر ځاي کې چې وي ، کار واخیستل شی .

یوناما به د افغانستان د دینی مشرانو او عالمانو سره خپلو اړیکو اوتماسونو ته دوام ورکوي. په پای کې د سرمنشی ځانګړي استازي دي میستورا د مولوي کشاف د غوښتنې په ځواب کې په دې ټینګار وکړ چې د یو ناما کار کوونکي به

دلته وي او دافغانانو د ښې راتلونکي لپاره چې د افغانانو دحاکمیت ، فرهنګ ، دود او په ریښتوني توګه د مذهب درناوی لري ، کار کوي.

**Strategic Communication and Spokespersons Unit**

Strategic Communication and Spokespersons Unit
United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)
Kabul, Afghanistan
Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121
http://unama.unmissions.org

Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA.